## د انجنیر غلام‌نقیب رسولي بورسیې، حقوقي موارد

| د بورسیې پرېښودو اصول<br>که د بورسیې ترلاسه‌کوونکی پریکړه وکړي چې بورسیه په نیمایي کې پرېږدي، لاندې اصول به په پام کې نیول کیږي: | | |
|---|---|---|
| 1 | داوطلبانه پرېښودل | که د بورسیې ترلاسه کوونکی، پرته له موجه دلیله بورسیه پرېږدي، دوی باید:<br>• د بورسیې فنډ، بېرته ورکړي.<br>• د استوګنې ټول فنډ بېرته ورکړي. |
| 2 | د پرېښودو موجه دلایل | لاندې دلایل د بورسیې پرېښودو مشروع دلایل دي:<br>• روغتیایي ستونزې<br>• بېړنۍ کورنۍ ستونزې<br>• نور غیر متوقع شرایط |
| 3 | بل چاته د بورسیې ورکول | که چېرې د بورسیې ترلاسه کوونکی د غیر موجه دلایلو په اساس بورسیه پرېږدي، بورسیې د لاندې شرایطو مطابق بل کس ته ورکول کیږي:<br>• نوی ترلاسه کوونکی باید د بوسیې په معیارونو برابر وي.<br>• نوی ترلاسه کوونکی کس به هم د پخواني په څېر د بورسیې ټاکلو تر پروسې تیریږي. |
| 4 | اعتراض | که چېرې د بورسیې ترلاسه کوونکی د بورسیې پرېښودو په صورت کې د مادي تادیاتو بېرته ورکولو سره موافق نه وي، کولی شي د بورسیې کمیټې ته عریضه ورکړي او خپل دلایل وړاندې کړي. کمیټه به قضیه څېړي او وروسته به پرېکړه اعلانوي. |
| 5 | کلنۍ ارزونه | د بورسیې ورکولو کمیټه به هر کال د محصلینو تحصیلي پرمختګ ارزوي. هغه محصلین چې په خپلو زده کړو کې ممتاز وي، ستایل کیږي به او بورسیه به یې بل کال ته هم غځول کیږي. |
| 6 | د قانوني سرغړونو اړوند مسائل | که چېرې د بورسیې ترلاسه کوونکی په میشت هېواد او پوهنتون کې هر ډول قانوني سرغړونه کوي، مسئولیت یې فردي دی او زرغون یې په هکله هیڅ راز مسئولیت نه اخلي. |